DAILY
اراده
د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

سال چهارم شماره ۲۱۰
شماره مسلسل ۵۶۹
یکشنبه ۲۹ سنبله ۱۳۸۳هش
۴شعبان ۱۴۲۵ هـ ق
19 September , 2004

سال تاسیس ۱۳۷۹هـ ش

PROPERTY OF AMRC

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER
A.M.R.C

آقای کرزی بازهم تشکیل حکومت ائتلافی را رد کرد

آقای حامدکرزی طی یک کنفرانس خبری درکابل درمورد ترکیب حکومت آینده خود گفت اگر درانتخابات برنده شود حکومت آینده خود را از برخی وزیران مسلکی کابینه کنونی واشخاص کاردان خارج از کابینه تشکیل خواهد داد.

وی بازهم تشکیل هرگونه حکومت ائتلافی را رد کرد . این درحالیست که درین اواخر آوازه های مبنی برگفتگو ها میان آقای حامدکرزی ویکی از کاندیدان دیگر(محمد یونس قانونی) قوت گرفته است منابع نزدیک به آقای قانونی نیز جریان گفتگوها را تائید کرده ولی اضافه میکنند که هنوز نتایجی ازان بدست نیامده است. از طرف دیگر گزارش شده است که هیات به نماینده گی ازآقای کرزی با آقای قانونی پشت درهای بسته درولایت پروان مصروف بحث روی این موضوع است وگفته میشود که عبدالرب رسول سیاف رهبر اتحاد اسلامی رهبری این میان جیگری را به عهده گرفته است .

حامد کرزی اقتصادي پياورتيا او بيا رغونې ته به ځانګړې پاملرنه وکړم

ولسمشر حامد کرزی د تول ټاکنو لپاره د خپلې تګلارې په لړ کې یو ځل بیا ویلی چې د هیواد د اقتصادی حالت د ښه والی او بیا رغونی دګرونو ته به ځانګړی پام کوي. نومورې پرون په کابل کې په خپله دوهم ځلی وینا کې پردې ټینګار وکړ چې د خلکو د ژوند د کچې د لوړوالی لپاره به ګامونه پورته کړي. دفقر د له منځه وړلو په تړاو د بناغلی کرزی وضاحت داو چې دی به تر هر څه ړومبی د ښوونې روزنې په کیفیت او کمیت کې وده راولي د بې وسی د له منځه وړلو نور مهم عناصر یې د عصری سړکونو جوړول د تول هیواد په کچه د بریښنا د تاسیساتو پراختیا او دهغی په مټ د صنعت او سوداګری وده د کرنې او ځنبلاک لپاره د اوبو د زیرمو سمبالول دي خو تر ټولو مهم عنصر دده له انده په قانون د ولاړې پیاوړی اداري رامنځ ته کیدل دي.۴مخ

افزایش نیروهای امریکایی در آستانه انتخابات

منابع نظامی امریکا تایید کرده است که درحال اعزام حداکثر ۱۱۰۰ نیرو به افغانستان برای کمک به تامین امنیت انتخابات ماه آینده آن کشور است.این نیروها از لوای هشتاد و دوم هوایی مستقر در "فورت برگ" در کارولینای شمالی به افغانستان اعزام خواهند شد.واضح است که نگرانی های زیادی درباره اوضاع امنیتی افغانستان در مقطع فعلی و احتمال افزایش حملات چریکی طالبان، القاعده یا سایر گروه ها برای مختل کردن انتخابات روز نهم اکتوبر وجود دارد.به همین دلیل پنتاگون، وزارت دفاع امریکا، تصمیم گرفته است یک نیروی تقویتی را در قالب واحدی از لوای هوایی هشتاد و دوم که قبلا در افغانستان خدمت کرده است به این کشور اعزام کند.به گفته مقام های نظامی ۷۰۰ تا ۱۱۰۰ سرباز در این ماموریت شرکت خواهند داشت.آنها به تقریبا ۱۷ هزار نیروی اردوی امریکا که در کنار نیروهای سایر اعضای ائتلاف تحت رهبری امریکا، نیروهای حافظ صلح تحت فرماندهی ناتو و اردوی ملی تازه افغانستان خدمت می کنند خواهند پیوست.نیروی فوق برنامه طی چند روز آینده مستقر خواهد شد و درحالی که ماموریت آنها حمایت از انتخابات، یا به گفته یک مقام اردوی حمایت از فرآیند رو به رشد دموکراتیک در افغانستان است، اما پنتاگون هنوز محل استقرار آنها در این کشور یا دوره ماموریت آنها را فاش نساخته است.

سرمقاله

تاخیر انتخابات با مصلحت ملی هماهنگ نیست

برگزاری انتخابات ریاست جمهوری درکشور ازهمان آغاز مستلزم به هم پیوستن وانتظام دادن انبوهی از دشواریها، ملحوظات ، مصلحت ها وناهمواریهایی است که دروضعیت کنونی درکشورما مسلط است.

ازاجلاس بن تاکنون که نسبت به برگزاری انتخابات مسایلی طرح گردیده تاکنون چندبار این پروسه با موانع گوناگون روبروآمده که یکی از مهمترین این مسایل، سرنوشت نافرجام ونا منضبط خلع سلاح وملکی سازی بوده است.

نبود امنیت و نبود یک فضای سالم وقابل اعتماد، وعدم آمادگیها ، بیش از هرمورد دیگر، انتخابات را به تعویق وتاخیر مواجه ساخت.

اکنون که این مساله قبلاً ازسوی مراجع ملی وبین المللی پذیرفته شده ، وبرنامه های کاری آن یکی پی دیگری به معرض اجراء قرار گرفته ، شماری کاندیدان محترم احراز مقام ریاست جمهوری بنا به دلایلی، این ملحوظات را پیش کشیده وبرآن تائید کرده اند که انتخابات برای ملت یکماه به تعویق بیفتد.

این شمار از کاندیدان که چنین درخواستی را مطرح ساخته اند، عدم تکافوی وقت معینه را برای انجام کمپاین انتخاباتی درسراسر ولایت کشور مورد توجه قرار داده اند.

این امر پرسشهایی را به میان می آورد. نخست اینکه این درخواست درفرصتی مطرح میشود که چند هفته از تصویب این مساله بوسیله کمیسیون مستقل انتخابات گذشته، همینطور چند روزی ازآغاز کمپاین انتخاباتی کاندیدان سپری گردیده است.

جانب دیگر قضیه اینست که به عقب انداختن یکماه دیگر انتخابات ، چندین دشواری دیگر را به میان می آورد که این دشواریها، به سود انتخاباتی که همه آرزوهای ملت ما بدان منوط ومربوط شده تمام نخواهد شد.

وارد شدن سی روز تاخیر ، نه تنها انتخابات را با ماه رمضان بلکه با سردی هوا که دربرخی از مناطق سرد سیر کشور، برای رای دهندگان جداً مشکل آفرین خواهدبود، مصادف میشود.

ازین گذشته این امر یعنی انتخابات که هر روز ازجهات وابعاد گوناگون وتعدد نامزدان وکاندیدان انتخابات وبیانیه ها وخط مشی ها ودیدگاه ها ، بر روان وذهن هموطنان ما سنگینی وسردرگمی فراوانی را مستولی میسازد.

بیایید این فکتور را ازچشم اندازی دیگری درنظر بگیریم: آن هموطن دور از شهر ودور از امکانات رادیو وتلویزیون وتبلیغات دامنه دار انتخاباتی ، که هنوز نمیداند انتخابات چیست ورای گیری چه مفهومی دارد، وبا کارت وکاغذی که بدست می آورد، نمیداند چگونه وبه چه کسی رای بدهد وبارای دادن به یک آدم از انبوه آدمها وباهمه بینوایی وبی چیزی که دارد، چه چیزی بدستش می آید: تازه با دشواری دیگری روبرو میشود ویکماه دیگر اورا منتظر می گذاریم .

ص۴

مخربین شناسایی وبه زودی به چنگال قانون سپرده خواهندشد

علی احمد جلالی وزیر امور داخله گفته است که با نزدیک شدن زمان انتخابات گروه های مخالف فعالیت های مخرب شان را افزایش خواهند داد. همچنین او گفت که علاوه برطالبان گروه ها وافرادی که فکر میکنند درنتیجه انتخابات در انزوا قرار خواهند گرفت نیز مشکلاتی را به وجود خواهند آورد، آقای جلالی که دیروز دریک کنفرانس خبری سخن می گفت تاکید کرد که قوت های اردوی ملی پولیس، نیروهای ائتلاف ونیروهای آیساف متحدانه از فعالیت های چنین گروه ها واشخاص جلوگیری خواهند کرد. ص۴

د امنیت شورا د سوله ساتونکی ځواک د خدمت وخت یوکال زیات کړ

د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له نړیوالو حکومتونو وغوښتل چې په افغانستان کې د ټلې د میاشتې د جمهوری ریاست د انتخاباتو محکمې دې دغه هیواد ته د سوله ساتو ځواکونو استول چټک کړي. د امنیت شورا د امنیت ساتنې نړیوال ځواک ای ساف ته دعسکرو . وسایلو او پیسو غوښتنه د جمعې په ورځ وروسته له هغه وکړه چې د پنجشنبې په ورځ د افغان ولسمشر په الوتکه برید وشو په هغه نړۍ اته زره دوه سوه عسکر افغانستان کې د ناټو په خدمت کوي. د امنیت شورا مشری سوله ساتی ځواک کې له اوه دیرش هیوادونو څخه پنځلس هیوادونو په غوښ اکثریت سره په افغانستان کې د سوله ساتی ځواک د خدمت موده د یو بل کال لپاره وغځوله. په هغه پریکړه لیک کې چې له مخې یې د سوله ساتو ځواکونو د ماموریت موده یو کال تمدید شوی ټینګاری شوی چې د مرکزی حکومت واک دي د افغانستان نورو سیمو ته هم وغځول شي تر څو پدې توګه ازاد اومنصفانه انتخابات ترسره شي.

عاملان حمله بردفاتر دولتی وغیر دولتی محاکمه شوند

کمیسیون مستقل حقوق بشر خواستار محاکمه عاملان حمله بر دفتر این کمیسیون درشهر هرات شده است. یک تن ازاعضای هیات که ازسوی کمیسیون مستقل حقوق بشر به هرات اعزام شده بود میگوید دراثر حمله تظاهر کننده گان به دفاتر دولتی وسازمان های غیر دولتی افغان حدود یک صدوپنجاه هزار دالر خسارت وارد آمده است.

هفته گذشته به دنبال برکناری اسماعیل خان والی هرات ازمقامش شماری از طرفداران او دست به تظاهرات زدند که درجریان آن عده یی به دفاتر دولتی وسازمان های غیر دولتی حمله کردند. ص۴

انتخابات به له مهال ویش سره سم ترسره شي

په افغانستان کې د امریکا سفیر زلمی خلیل زاد خبر داری ورکړی چې مبارزین ممکن په خو راتلونکو اونیو کې د انتخاباتو د ګډوډولو لپاره حملې وکړي. خلیل زاد وویل دی باوری دی افغاني ، د امریکا په مشری د متحدینو او ناټو ځواکونه به د بې ثباتی هر ډول هلی ځلی شنډې کړي. ده وویل د انتخاباتو د ګډوډولو لپاره د ممکن مبارزین د یوې حیرانونکی حملې هلی ځلی وکړی. پاتې ۴مخ

آفتاب به دو انگشت پنهان نمی شود

عبدالحفیظ پیام

پیام مجاهد در شماره ۲۲ ۲۹ خویش در سرمقاله تحت عنوان: "کرزی تجرید می شود". مطلبی را به نشر سپرده است و یک بار دیگر بر سیاست های آقای کرزی انگشت انتقاد گذاشته است. طوری که به همگان معلوم است که در آغاز و بعد از تدویر لویه جرگه قانون اساسی دایما آقای کرزی مورد انتقاد آقای حفیظ منصور قرار می گیرد که نمونه تاخت و تاز آقای عبدالحفیظ منصور مجدداً در نشریه پیام مجاهد انعکاس یافته است موصوف این بار نیز پا از گلیم فرا نهاده و به تبلیغات خارج از کلیه معیار های اخلاقی علیه آقای کرزی دست زده است. اکنون بعد از تجارب متعدد مردم میدانند که کی چه کاره است، کی میخواهد با اتهام وارد کردن به دیگران برای خود نام کمایی کند و کی صادقانه در راه خدمت به مردم تلاش میکند.

اینکه آقای کرزی به اساس توافقات بن و لویه جرگه های اضطراری و تصویب قانون اساسی به کرسی ریاست دولت باقی ماند، فیصله نمایندگان مردم بود. و این که تا انتخاب رئیس جمهور آینده به وظیفه خود ادامه می دهد نیز قانون اساسی است. پیام مجاهد آقای کرزی را متهم به داشتن روابطه با دستگاه های استخباراتی می سازد. اما هیچ ثبوتی ارایه نمی کند که این نوع اتهامات خود بیانگر هیچ و پوچ بودن و غیر موجه بودن نظریات انتقاد کننده است. تمام استعداد و هنر آقای عبدالحفیظ منصور صرف در بدگویی رئیس دولت انتقالی اسلامی افغانستان خلاصه می شود، و در عوض آقای کرزی بی حد اندازه صبر و تحمل می دارند.

آقای منصور صرف بیعدالتی در جامعه را در وجود آقای کرزی می بیند و فکر می کند با کنار رفتن موصوف از اریکه قدرت، افغانستان به شگوفانی و اوج ترقیات خواهد رسید. آقای منصور معلوم میشود که به جز از خود هیچ کس را به پست ریاست جمهوری قبول ندارد، اینکه آقای منصور سید اقبال منیب از قوم ازبک را بحیث معاون خود برگزیده است، آیا در مورد وی کدام شناخت دارد، از تقوای سیاسی، صداقت، نفوذ مردمی، پاکیزگی اخلاقش آگاهی دارد، ایا معاون منصور صاحب روابط استخباراتی ندارد؟ سید اقبال در یک روز تاظهر جنبشی بوده و بعد از ظهر چند ساعت طرفدار کرزی و چند ساعت بعد خود را طرفدار جمعیت قلمداد مینمود، او در مدت کوتاه در میان اهالی غریب شهر آیبک بخود قصری ساخت ایا منصور میداند که واقعاً معاونش از پول حلال برای خودش دارایی و املاک ردیف کرده است؟

البته این کار بخاطر خوشی دوستم و محقق جهت براه انداختن یک کمپاین تبلیغاتی روی مصلحت های قبلی صورت گرفته و تصادفی بمیان نیامده است در حالیکه سید اقبال کم تحصیل و فاقد محبوبیت می باشد. اقای منصور باید بداند که ایتلاف کانیدان به اساس تجارب گذشته بعد از قدرت حتی یک روز هم حفظ نخواهد شد.

اصطلاحات باید له پاسه راپیل شي

دیدار

که له موجودو واقعیتونو څخه سترګی پټی نه کړو او وی وایو نو د هیواد په مرکز او ولایاتو کې به داسی ملکی او پوځی، ډیره کم او د ګوتو په شمیر کسان پیدا شی چې رشوت په کې نه وی او داسی اداره به ډیره کمه وی چې د خلکو کارونه زر او پخپل وخت خلاص کړي او هغه رسمی کارونه چې له یوی لیری او نړدی اداری څخه بلی ته په رسمی ډول د مخابراتو له لارې لیږل کیږی که پخپله څوک ورپسی ونه ګرزیږی میاشتی او کلونه به ونیسی او نیول یې دی.

خو که له چا څخه پوښتنه وشي چې دا کارونه ولی ځندیږی او یا زیات او کم رشوت ولی اخیستل کیږی او دهمدی رشوت پواسطه قانون ولی تر پښو لاندی کیږی مونږ یوازی یو ځواب ورکوی چې معاشونه کم دی ضرورتونه زیات دی ایا دا ځوابونه آیاقناعت بښوونکی بلل کیږی؟

په داسی ټولنه کې چې هم وروسته پاتی وی او هم د څو لسیزو جګړو د ژوندانه ټوله هستی او سوکالی تری وړلی وی او د نړیوالو مرستو ته یې لاسونه اوږده کړی وی ایا داسی ځوابونه ستونزی حلولی شی؟

پداسی صورت کې چې خپل لاسونه مو نړیوالو ته اوږده کړی وی او له هغی لاری لاسته راغلی مرستی هم په خپل ځای پوره نشو لګولی ځنګ کولای شو چې پورتنی ستونزی له منځه یوسو؟

په داسی ټولنه کې د ګوتو په شمیر کسانو پاکوالی عامی ستونزی نشی حلولی تر هغی پوری چې زمونږ د هیواد په ټولو ادارو کې د هیواد او خلکو په خاطر یو پاکوالی رامنځته نشی تر هغی چې ټول خلك په هر کار او ځانګه چې بوخت وی پاك نشی. اوس اوبه خړی شوی دی او هر څوك په کې ماهیان نیسی راشئ چې دغه خړی شوی اوبه له سرینډ څخه پاکی کړو.

د هری دولتی ملکی او پوځی اداری لومړی مسوول او یا د هر خصوصی سکتور او حرفوی کار ځای او هر دکان او مغازی مشر اصلاحات له ځان څخه راپیل کړی او د هیواد په سطحه یو کمپاین ته سازمان ورکړی پدی ډول چې اصلاحات له پاسه راپیل شي. د بیلګی په توګه که چیری د یو اداری مشر پخپله په ټاکلی وخت دفتر ته راشی او لاړ شي. بلډی ونه خوری واسطه ونه منی په خپلو ادارو کې د مراجعینو حال احوال او کار وګوری په خپلو ادارو وګرزی د کارونو د ځنډولو مخه ونیسی د خلکو انتقادونو او غوښتنی چې د خلکو او ټولنی په ګټه وی او په معقول چوکاټ کې وی حل یې کړی په خپلو ادارو کې قانون تطبیق کړی قانون ته درناوی ولری په خپلو ادارو کې کارونه تعلیم یافته اهل اومسلکی کسانو ته چې ورټیا یې ولری ورکړل شي د خبرو په پای کې لومړی مسوول شخص د اداری د ټولو افرادو او کارکوونکو په نزد یو قانونی مشر ثابت شی نو بیا په هغه اداره کې هیڅوك له قوانینو څخه لوړی سرغړونه نشی کولای او که چیری څوك داسی کوم قانونی جرم وکړی هغه ته توصیه، اخطار، کسر معاش ورکړی شي تبدیل شی نو هیڅوك د دی توان مندی نشی درلودی چې په خپله سرغړونی وکړی خو اوس چې کومی بدبختی رامنځته شوی کشران مشرانو ته ګوری او په هماغه ډول یې ځانونه عیار کړی دی او ځینی لاله خپلو څو نورو کسانو سره په بډو اخیستلو کې شریك دی د بډو او رشوت په اخیستلو کې باید ځانګړی اداری له پاکو او وطنپالو اشخاصو څخه جوړی شی چې د قانون او قانونیت څارنه وکړی نو بیا کیدای شي چې لدی اوسنی بحران څخه ووځو او که نه د تل لپاره به مو کارونه تیال او له بدبختیو سره به اخته یو.

زور ډالري، او که واقعي ډموکراسي؟

احمد جان ثنی

اوس د ډموکراسی شعار یو مود ګرځیدلی دی، که په هیواد کې ښی لاسی ډلې دي او که کین لاسي ډلې دی یا منځ لاری ټول یې د ډموکراسی څخه خبری کوي دوی ټول غواړی چې لویدیځو هیوادونو ته ځانونه ډموکراتان وښیی، خو اصلی ډموکراتان نه معلومیږی چې څوك دي، د بلې خوا زمونږ د ټولنې بشپړ اکثریت په دې نه پوهیږی چې ډموکراسی څه ته وایی، یو شمیر یې په دې فکر کې دي چې ښایی ټول تاکنو ته ډموکراسی وایی، او بیا نور یې په دولتی او شخصی موسساتو کې د ښځو کارکولو او په ټول تاکنو کې د دوی برخې اخیستنی ته ډموکراسی وایی. داسې کسان هم شته چې د ډموکراسی څخه د ګډوډی او خپلسری مفهوم اخلی.

دا چې د ډموکراسی کلمه څه وخت راپیدا شوه دا پریږدو، خو اوس لویدیزه نړی هغوهیوادونو ته د ډموکراسی لرونکی وایی چې هلته ګوندونه موجود وي، پارلمان موجود وی او حکومت، او د یوه اساسی قانون په بنسټ دولتی نظام په مخ ولاړ شي.

مګر هلته ډموکراسی د رایو په ورکولو سره چې د عام ولس له خوا ورکول کیږی، کاندیدان راز راز ژمنې ورکوي خو د هغه عملي کول ډیر لږ تر سره کیږی د ټول تاکنو په بهیر کې لوی شرکتونه او پانګوال د مختلفو لارو چارو کاندیدان ولس مشری او د پارلمان په څوکیو کینوی چې بیا تر هغې وروسته دوی د لویو شرکتونو او پانګوالو په ګټه فکر کوي او ملت د هغوي هیر وی، نو همدا سبب دی چې خلك د ټول ټاکنو سره لږه علاقه څرګندوی.

په افغانستان کې د ډموکراسی تجربه هم پیل شوی ده، خو د لومړی څخه ترخه ده کتونکی دا نظر څرګندوی چې د جمهوری ریاست څوکی ته کاندیدان، او یا د دوی مرستیالان داسی کسان دی چې هغوی د اساسی قانون د شرایطو سره برابر نه دی او په دې هکله د اساسی قانون مواد تر پښو لاندی شوی دی د پلی خوا دوی لس زره کارتونه دوی د کومې کړل، که په واقعی معنی سره وکتل شی. بی د یو دوو تنو په دوی کې داسی څوك به نه وی چې حتی په سل ګونو کسان هم پیدا شی چې په خپله خوښه یې کارتونه وروړی وي تر څو د هغه د کاندیدو معیار پوره شی.

داسې ښکاری چې دوی دا کارتونه له دو ولارو څخه تر لاسه کړی وی یوه دا چې دا کارتونه په ډالرو سره اخیستل شوی وي، کله چې د کارتونو تسلیمولو وخت و، په هغه وخت کې اوازې موجودې وی چې یو کارت د سلو څخه تر دوه سوه ډالرو پورې پلورل کیږی، که چیری یو کارت په دوه سوه ډالرو رانیول شوی وی نو د لسو زرو کارتونو بیه به په میلیونو ډالره شي، دا دومره روپۍ د کومه شوې، ښکاره ده چې دا روپۍ خو د دوی د یو له وسه هم پوره نه دی جوته ده چې دا روپۍ د یو چا او یا مختلفو سرچینو له خوا دوی ته ورکول شوی چې ښایی هغوی به هم ځانګړی هدفونه ولری چې خینی یې د افغانستان ضد وی.

د کارتونو د پوره کولو بله لاره د وسله والو کسانو په واسطه د خلکو څخه د کارتونو په زور راټولول دي لکه چې لیدل شوی په دې باره کې ډیری ګیلی شته چې زیاترو کاندیدانو د دې لارې خپل کارتونه پوره کړی وی اوس نو دا پوښتنه پیدا کیږی په هغه هیواد کې چې کاندیدان، کارتونه په ډالرو اخلی او یا یې د خلکو څخه په زوره تولوی هلته د ډموکراسی راتګ امکان لری؟

په دې ډول په راتلونکی کال کې د هیواد پارلمان ته نمایندګان ټاکل کیږی هغه مهال په سلو کې سل دا امکان لري چې د ډالرو او زور څخه کار واخیستل شي په دې صورت کې به داسی کسان پارلمان ته ولاړ شي چې د ملت په خوښه به نه وی او دوی به هم د خپلو جیبونو په ډکولو بوخت وی.

ډموکراسی یوازی په دې مفهوم نه ده چې د ټول ټاکنې په مخ بوتلل شي بلکی ټولنیزه، اقتصادی ښوونه او روزنه او فرهنګی اړخونه هم لري، دې تیرو دوه نیمو کلونو کې د هیواد چارواکو د ډموکراسی څخه ډیری خبری کړی دی مګر عمل یې ډیر لږ دی. د ټولنی د اکثریت ډموکراتیک او قانونی حقوق عملاً تر پښو لاندی کیږی.

په اوسنیو شرایطو کې ډیر ټولنپوهان په لویدیزو کې ډموکراسی نظام ته د شك په سترګه ګوری او دا نظر څرګندی وي چې په دی نظام کې باید اصلاحات راوړل شي داسی اصلاحات چې د اکثریت رایه ورکوونکو په ګټه وی.

یا په بل عبارت لویدیزه ډموکراسی زړه شوی او رنځمنه ده د افغانستان په شان هیوادونه باید دا ډول ډموکراسی چې د فردګرایی او سودپرستی په ویروسونو ککړه ده خپله نه کړی.

اوس په افغانستان کې د ډموکراسی کلمه موجوده ده چې ډیر شمیر کسان غواړی دلته په پیسو او زور ولاړه ډموکراسی رامنځته کړی او پیل یې په زور، ډالرو او دوکه سره شوی دی خو ایا کیدای شي چې د هیواد خلك په دې هلکه بی تفاوته پاتی شي.

ښکاره ده چې نه.

تر هر څه ضروری ده چې په لومړنی پړاو کې د اساسی قانون ټولو موادو د ښه تطبیق له پاره زمینه برابره شي. د خلکو د سیاسی پوهې د لوړولو د پاره کار وشي ځکه چې یوازی ولس کولی شي چې په اګاهانه توګه د ډموکراسی اوصول هم په خپل ځان او هم په چارواکو تطبیق کړی دا ډول ډموکراسی چې په هغه کې د خلکو اقتصادی، فرهنګی، سیاسی، او ټولنیز حقوقو په بنه ډول خوندی وی.

مګر لکه چې اوس لیدل کیږی زمونږ ټولنه د زور او ډالرو د ډموکراسی خواته روانه ده چې په هغې کې د ټولنې اکثریت په جوته له ټولو حقوقو څخه چې په اساسی قانون کې ورته په ډاګه شوی برخمن خو په عمل کې به یوازی د رایو په صندقونو کې د کاغذونو اچوو حق ولري او د نورو ټولو څخه به بی برخی وی. نماینده ګان به د خپلو جیبونو په ډکولو بوخت او د هغه چا چې په بریالیتوب کې یې ورسره مرسته کړی په چوپړ کې به وی. هوښیارانو متل کړی دی که چیری د بنسټ ډبره کږه کیښودل شي دیوال تر پایه کږ ځی په افغانستان کې که څه هم بنه اساسی قانون جوړ شوی خو هغه په خپله د ډموکراسی بنسټ ایښودونکو یعنی د انتخاباتو د مستقل کمیسیون او نورو چارواکو له خوا او هم د کاندیدانو له خوا عملی نه شو. نو همدا خبره ده چې ډموکراسی به زمونږ په هیواد کې په راتلونکی کې یوازی د کاغذ په مخ موجوده وی.

راتلونکی دځوانانو ټولنه

متصدی صفحه :ناصر بشر

د راتلونکی ولسمشر په هکله د هیوادوالو نظریې

د نادریی لیسی استاد ظاهر اکسیر:

۱: شریعت غرای محمد ص ملاک عمل خویش قرار داده که این یگانه راز موفقت وی در کشوراسلامی چون افغانستان خواهد بود.

۲: حفظ و حراست حقوق و آزادی های ملیت های ساکن در کشور.

۳: دارای تحصیلات عالی باشد.

۴: از فهم و درایت عالی برخوردار باشد.

۵: از اوضاع وطن خویش متحیث یک تبعه افغان تحلیل مشخص و عینی داشته باشد.

۶: صادق و راستگو باشد و آنچه به حرفش وعده می دهد آنرا در منطه اجرا قرار داده بتواند.

۷: به رسوم، عنعنات و کلچر مردم خویش احترام کلی داشته و علیه ناقضین آن جدا برخورد قاطع نماید.

۸: در مورد انتصاب و انتخاب مسوولین قوه قضائیه کشور باید اشخاص با تقوا، اهل مسلک و فن را برگزیند و تلاش نماید قوه قضائیه پاک و منزه دانسته باشد این نیز در موفقیت و نیک نامی وی رول عمده و بسزا دارد.

۹: در صدد تشکیل قوای مسلح نیرومند و آگاه باشد.

۱۰: در تعیین مسوولین امور باید افراد خبیر، آگاه و دانشمند و اهل مسلک بدون در نظرداشت تعلقات مذهبی، لسانی، جنسیت، و ملحوظات سیاسی کوشا بوده و از هر گونه سازش های غیر اصولی که باعث بربادی وطن و ملت می گردد جدا امتناع ورزد.

۱۱: شایسته سالاری را در ادارات حکومتی و در دولت خویش ملاک عملی قرار دهد.

۱۲: خودخواه، مغرور، احساساتی، ماجراجو، سنگدل و بیرحم، قصی القلب و زر اندوز نباشد.

۱۴: از انتصاب مشاورین زیاد در چوکات ریاست دولت و وزارت خانه های تحت امرش جدا اجتناب ورزد، و در هر وزارت یک مشاور حقوقی باید داشته باشد.

۱۵: دارایی شخصی خویش را بطور شفاف و بدون کم و کاست برای مردم ابلاغ و در محکمه ذیصلاح حاضر و آنرا درج وثیقه شرعی نماید و بعد از ختم دوران ریاست جمهوری اش بار دوم حساب دارایی خویش را بدهد.

۱۶: مدیر خوب و در امورات حکومت داری با تدبیر، با درایت و دارای اهداف و الای اسلامی و انسانی باشد.

۱۷: همیشه خود را خادم ملت حساب کند نه بادار و بالاتر از مردم کشور دردمند خویش.

۱۸: در برابر تمامی جرایم بخصوص جرایم چون قتل، سرقت، قطاع الطریقی رهزنی، جرایم ضدبشری، مانند تروریزم، جرایم ضد اخلاقی، جرایم چون مواد مخدردارای برخورد قاطع و استوار باشد و در برابر همچو جرایم که در صدر ذکر شد روحیه تسلیم ناپذیری داشته باشد.

۱۹: علیه ارتشا با رشوه ستانی، افراد ماجرا جو و اتانیکه درادارات دولتی باعث بدنامی دولت و حکومت میگردند روحیه آشتی ناپذیر داشته و برخورد قاطع نماید.

۲۰: از اوتوریته و اعتبار و انضباط آهنین در بین اعضای حکومت خویش برخوردار بوده چنانچه بتواند در هر مرحله زمانی با هر یک از اعضای کابینه در مورد اجرات دولتی محاسبه دقیق نماید.

امید وارم انچه در فوق ذکر شد مردم ما بتواند در انتخاب چنین یک شخصیتي کوشا بوده و رأی خویش برای چنین یک شخص ابراز نماید.

د ننګرهار ولایت د چکنوریو د لیسی استاد مطیع الله متوکل وایی:

ـــــــــــ نیکه مرغه په هیواد کې د ولسمشرۍ لپاره د انتخابات کیږي خوشاله یو غواړو داسې خوک زمونږ ولسمشر شي په خپله وعده وډیږي او دوه طرفه سیاست ونه چلوي او په لومړي ګام کې زمونږ له سر څخه د نوپکوالو نفوذ ختم کړي او هر ډول وسلې ټولې کړي خو دا کار په مشوره او سلا باندې نه کیږي د وسلو په راټولو کې اړوندې اداري ناکامي دي باید راتلونکی ولسمشر ډیرجدي وي او په خپل کلك تصمیم سره وسلې ټولې کړي او داسې ویره رامنځته کړي چې خوک له ویرې وسله ونشي ګرزولی.

داسې ولسمشر غواړې چې د تعلیم کمې او کیفي خوا پیاوړتیا په برخه کې جدي اوسي دا ډیره بده خبره ده چې زمونږ دولسونوټولګیو فارغین ان چې عرایض نشي لیکلی او د پوهنتون وړتیا هم نه لري.

زمونږ راتلونکی جمهور رئیس باید دومره دموکراسي رامنځته کړي چې زمونږ اسلامي اصولو او افغاني دودونو سره ټکرونه خوري.

باید د دولت په ادارو ټاکنې په تمایلاتو او ارتباطاتو نه وي بلکې اهلیت مسلك او لوړې زده کړې یې په پام کې ونیسي.

د بې کاري او بې کورۍ ستونې ختمې کړي اود کار د حقوقو د ورکړل او دندو ترمنځ توازن د اړیاوو په پام کې نیولو سره ونیسي.

باید دانتقادونودحل لاري ولټول شي

باید لدې څخه ستر ګي پتې نه کړو چې مونږ په اوس وخت کې د خونو کادرونو روزلو ته چې د بنسټ ډبره یې په بنوونځیو کې ایښودل کیږي اړتیا لرو.

د هرې کورنۍ تقاضا او هیله هم همدا ده له همدې املې خپل بچیان بنوونځیو ته ورلیږي. خو لکه څنګه چې لیدل کیږي په بنوونځیو کې لازمه نظم وجود نه لري او د زده کړې کیفي سطحه ډیره ښکته شوی ده دا نیمګړتیا په مرکز کې خو لږ څه کمه خو په ولایاتو او اطرافي بنوونځیو کې خورا زیاته ده.

بنوونکي دا نیمګړتیا په شرایطو او ادارو باندې اچوي او اداري د موجوده نظم د خرابوالي او د درسونو کیفي سطحي کم والي د بنوونکو عدم همکاري او د اوسني لایحې کمزورۍ او نه تطبیق بولي.

کورنۍ هم هیڅکله د خپلو اولادونو د زده کړې او غیر حاضرۍ او دغه راز د بنوونکواو اداري په باره کې د خپلو بچیانو د کړو وړو پوښتنه نه کوي.

له یو بنوونکي څخه چې خپل ځان یې عبدالجبار را پیژني او د کندز اوسیدونکی دی وایي:

د زده کوونکو په مقابل کې د بنوونکي روحیات کمزوري شوی دی ځکه چې بنوونکود زده کوونکو له خوا توهین شوی بنکنځلی ورته شوی او ان چې وهل شوی دی خو اړوندې اداري د معلم د حیثیت پوښتنه نه کوي معلمین پدې نامه چې انضباط نه لري د اداري له خوا سرزنش کیږي خو هغه زده کوونکي چې د معلم حیثیت ته صدمه رسوي هیڅکله سزا نه ورکول کیږي نه غیر حاضریږي اونه له بنوونځي څخه هم تعلیم او تربیې ریاست ته سه پارچه نه ورکول کیږي چې تعلیم او تربیه ته ولیکي چې دا شاګرد دی درواخله زمونږ پدې بنوونځي کې نه دی پکار.

نو ځکه معلمین خپل عزت او پت ساتي. په ټولګیو کې شاګردان د بنوونکو لپاره ارام نه کینې معلم یې نه غیر حاضرولای شي نه یې له صنف څخه ویستلای شي نه یې وهلی شي نو بس معلم وایي چې اداره باید درسي فضا برابره کړي چې زه درس ورکړم. عبدالجباره زیاته کړه: بنوونکي هم خپلې شپې تیروي خپل پت ساتي او دا چې په اوسني سیستم کې د کامیابۍ چانس زیات دی او څینې اداري مشروطان په خپل سر د بنوونکي له ناکامۍ وروسته کامیابوي نوبنوونکي ته څه نه پاتې کیږي بنوونکي وایي چې زه یې ناکام کړم بیرته کامیابیږي نو ځکه یې نه ناکامه کوم.

زده کوونکي پوه شوي چې ناکامي نشته نو ولي درس ووایم اویا بنوونکي ته کینم یا ورته درناوی ولري. عبدالجبار وایي د بنوونځیو په دننه کې په رسمي ساعتونو کې شاګردان ګرزي دا ځکه چې په بیلابیلو پلمو د اوبو ځکلو او ضرورت په پلمه اجازه اخلي چې د نظم په خاطر باید دا اجازي بندي شي اودزده کوونکودضرورت لپاره دیخواپه ځیربنوونکي داسي زده کوونکي که چیري غیر حاضر کلکه کړي او حاضري شي د تعلیم او تربیې له خوا یې ساختګي تصدیقونه امضاء کیږي تاپه کیږي حال دا چې د مریضي رقعه یې معامله نشي او په روغتون کې بستر ونه لري ولي یې تصدیق تائید نشي .ډاکټر تصدیق ورکوي اومعارف یې امضای کوي. نوپداسي حال کې د غیر حاضر کولو مقصد څه شو؟ دا ټول هغه ستونزې چې په بنوونځي کې موجود دي لازمه ده چې مسوول مقامونه په بنوونځیو کې په موجودو ستونزو باندې غور وکړي چې زده کوونکي د زده کړې اصلي لاري ته برابر شي.

تشکر ستاسو له روښانو خبرو څخه

د کورنۍ ټاکنیزې فضا اغیزه په ماشومانو

کله کله چې ځینو ماشومانو ته ځیر شو لیدل کیږي چې له یو ډول ناارامي او ذهني پریشانۍ سره مخامخ وي داسې ماشومان که له یوې خوا له روحي نا ارامي سره مخ وي له بلې خوا په طبي لحاظ همدغه ذهني پریشانۍ ورو ورو وده کوي او د همدغه ماشوم لپاره چې کله بنوونځي ته شاملیږي زیاتې ستونزې د زده کړې په برخه کې د ذهني پریشانۍ څخه چې وروسته زیات عصبي تکلیفونه رامنځته کوي.

یو علت یې په کور کې د پلار او مور ترمنځ ناندریزه فضا ده. تاسو لوستونکو به لیدلی وي چې ډیر ځله په ځینو کورنیوکې د صمیمت او دوستۍ فضا خرابه او تل له جنګ او جګړو څخه ډکه وي او کله کله خو د مور او پلار ترمنځ ناندریزه فضا وهلو ټکلو ته هم رسیږي او ماشومان په ژړا او چیغو سره کله مور او کله د پلار وهلو ته کوري او یوازي خپل عکس العمل د ژړا او چیغو په کولو سره سرته رسوي او خپلې اوښکې تویوي داسې حالات چې د تل لپاره په کورنۍ کې تکراریږي د ماشومانو په ذهن. فکراوروزنیزو حالاتو باندې ناوړې اغیزې رامنځته کوي او همدغه د کورنۍ له جګړه ییزې او ناندریزې فضا څخه چې د ماشوم لومړنۍ زده کړې را پیل کیږي دماشوم د استعداد په کمزورۍ کې منفي اغیزې رامنځته کیږي او د ژوند تر پایه ورسره مل کیږي.

پوښتنه دا را پیدا کیږي چې ولې په ځینو کورنیو کې ناندریزه فضا رامنځته کیږي چې نه یوازې د ماشومانو لپاره بلکې پخپله د ښځې او میړه ترمنځ د کور خوږه فضا تریخوي. زمونږ په هیواد کې دا چې لا تر اوسه پورې ودونه په خپله خوښه نه. بلکې د کورنیوپه خوښه وي په ځینو سیمو کې هلکانو سره مشوره نه وي په ځینو سیمو کې له انجونو سره بیخي مشوره نه کیږي او کله چې دا ډول ودونه سرته رسیږي یو له بل سره زیاته او لازمه پیژندګلوي او پخوانۍ موافقه نه وي د دواړو فکرونه سره اړخ نه لګوي جلي هم تقاضا لري چې د پلار کور په خیر صلاحیت او واکداري ولري او په دغه فکر کې ورسره مخالفونه او شیطاني تحریکات رامنځته کیږي.

د ښځې او میړه فضا خړه پړه شي له داسې کورنیو څخه چې تل په کې جګړې وي او ناندریزه فضا وي باید داسې فضا ارامه او په خوشالي بدله کړي شي څو د هغوی ماشومان وکړای شي په خوشالي اوارامي سره په پوره ذهني ارامي سره د خپل ژوندانه په پیل کې ډاډه ګامونه د راتلونکي لپاره وړاندې حرکت وکړي.

د اول لاس مرستې

ځوان افغانان تن سبا د نړۍ په مختلفو برخو کې د خپل هېواد سره مرستې کوي په المان کې د یو ځوان افغان په نوښت ځلور کاله مخکې یو سازمان منځ ته راغلې دی چې فیرست هېلپ یا د اول لاس مرسته نومېږي د دغې ډټولنې مشر له خولې داسې اورو زما ټوم شفیق الله احمدزی خانانخېل دی. د لوګر ځخه یم. د څه وخت راهیسې په المان کې ژوند کوم زه ۲۵ کلن یم او د نه نیمو کالو راهیسې په المان کې اوسېږم نومړی د خپلې ټولنې په هکله داسې وایي

دا پروژه له دوه زرم کال څخه راپدېخوا په المان کې جوړه شوې ده او د یو نیم کال راهیسې په افغانستان کې فعالیت کوو. په موسایی کې مو یو مکتب جوړ کړی دی او غواړو د افغانستان په نورو برخو کې مرستې وکړو او دوا وویشو او روغتونونو ته ډاکټران پیدا کړو په ځینو سیمو کې هېڅ مرستې نه کېږي علت یې دادی چې نارامي ده. خو په دې وخت کې دوی په تېره بیا مرستو ته اړ دي. د کندهار او د پاکستان په ګډه پوله ډېرې کورنۍ. اوسېږي چې خلکو ترې په زوره کور او هر څه چې یې درلودل اخېستي دي دوی نه اوبه نه دوا لري. پاکې اوبه نشته. ناروغي ډېره ده کله توبرکلوزاوکله ملاریا ګډه وي. نیمه یې برخه د ماشومانو مري ځکه چې میندې یې شیدې نه لري د مرستندویو ټولنه نو اصلي دنده دا ده چې د نارامۍ په ځایونو کې مرستې وکړي تر اوسه پورې مو یو بنوونځی جوړ کړی دی چې دوه بنوونکي لري او پنځه ډېرش زده کوونکي په کې زده کړه کوي مونږ تر اوسه پورې اویا غړي لرو چې اکثره یې المانان دي خو نور خلک هم شته لکه افریقایان. چینایان یان او دوه امریکایان.

دا چې ولې یې د دې خدمت لپاره ملا وتړله وایي دا ځوان یا زړه پورې اړه نه لري. دا د هر انسان وظیفه ده چې هغو خلکو سره کمک وکړي څوک چې ضرورت لري.

ادامه خشونت در عراق

انفجار یک موتر بمب گذاری شده در کرکوک چندین کشته و زخمی برجای نهاده و همزمان با از سرگیری حملات طیارات آمریکایی در شهر فلوجه و تهدید آدم ربایان به قتل گروگان های خارجی، اعلام شده که شرکت هواپیمایی ملی عراق نخستین پرواز خارجی خود در سال های اخیر را انجام داده است. براساس گزارش های رسیده از شهر کرکوک، در شمال عراق، صبح روز شنبه، ۱۸ سپتامبر، یک موتر بمب گذاری شده در برابر مقر گارد ملی عراق در این شهر منفجر شد که در اثر آن حداقل ده نفر کشته و گروهی زخمی شده اند.به گفته یک قوماندان گارد ملی، قربانیان این انفجار کسانی بودند که به منظور ثبت نام برای پیوستن به این نیروی جدید در برابر مقر آن صف کشیده بودند. پیشتر اعلام شد که از صبح همین روز طیارات نظامی آمریکایی برای دومین بار طی ۲۴ ساعت گذشته به هدف هایی در شهر فلوجه حمله کرده اند و گفته می شود در اثر این حملات، حداقل شش نفر کشته و چند نفر دیگر زخمی شده اند.منابع نظامی آمریکایی گفته اند که هدف این حملات محل های استقرار کسانی است که از آنان با عنوان شبه نظامیان مسلح تندرو یاد شده است.آنان تلفات این حملات را افراد شبه نظامی اعلام کرده اند اما به گفته منابع محلی، چند غیرنظامی نیز در میان کشته شدگان و زخمی های حملات دیده می شوند.همچنان، نیروهای آمریکایی و عراقی در بغداد منطقه ای را که به محاصره در آورده و اعلام داشتند از این محل برای پرتاب هاوان به سوی منطقه موسوم به کمربند سبز استفاده می شده است.کمربند سبز یکی از محلات بغداد است که دفاتر واحدهای نظامی آمریکایی، سفارت آمریکا و بریتانیا و ساختمان های ادارات اصلی دولت موقت عراق در آن واقع شده است.طبق یک خبر دیگر پولیس عراق شصت و سه تن، ازجمله چند تبعه لبنان، سوریه و مصر را به گمان ارتباط با گروه های تندرو مسلح بازداشت کرده است. در جریان این عملیات، راننده یک موتر حامل مواد منفجره موترش را به قطار موتر های پولیس کوبید که در اثر انفجار ناشی از آن، سه مامور پولیس کشته و سی و هفت نفر زخمی شدند.از سوی دیگر، گزارش شده است که در تبادل آتش بین نیروهای بریتانیایی و طرفداران مقتدی صدر، روحانی تندرو شیعه مستقر در تعمیري در بصره، یک سرباز بریتانیایی زخمی شد.از این ساختمان، مقادیر قابل توجهی اسلحه و مهمات به دست نیروهای بریتانیایی افتاد.در یک خبر دیگر، شبکه تلویزیونی عرب زبان الجزیره یک نوار ویدیویی را که گفته می شود حاوی تصاویر چند گروگان غربی است پخش کرده است.در این تصاویر چند مرد با چشمان بسته دیده می شوند و به گفته شبکه الجزیره، آنان توسط طرفداران ابومصعب الزرقاوی ربوده شده اند.مقامات آمریکایی وی را رهبر یک گروه تندرو مذهبی می داند که در عملیات ترور، انفجار و ربودن و قتل گروگان ها در عراق دست داشته است.به گفته آنان، الزرقاوی با شبکه القاعده به رهبری اسامه بن دلان ارتباط دارد.در این نوار ویدیویی گروگانگیرهای تهدید کرده اند که هرگاه آمریکا ظرف ۴۸ ساعت زندانیان زن عراقی را آزاد نکند، گروگان ها را خواهند کشت.در نواری که شبکه الجزیره پخش کرده آمده است که گروگان ها دو تبعه آمریکایی و یک تبعه بریتانیایی هستند که هفته گذشته در خانه خود در بغداد ربوده شدند.

عاملان حمله بردفاتر ...

کمیسیون حقوق بشر ازآقای خیرخواه والی جدید هرات خواسته است عاملان حمله به دفاتر دولتی وسازمان های امداد رسانی را تحت تعقیب قانونی قرار داده وبه محاکمه بکشاند.

مخربین شناسایی و به ...

آقای جلالی بدون این که از گروه وکشور مشخص نام ببرد گفت که این گروه ها بیشتر از خارج ازافغانستان تجهیز وحمایه میشوند وزیر داخله گفت با وجود فعالیت های نیروهای امنیتی وپولیس بازهم جنایات سازمان یافته، سرقت های مسلحانه وآدم ربائی درعده یی از ولایات کشور وجود دارد. او بطور مشخص از استقرار چنین افراد در دو محل کابل یعنی پغمان وشمالی نام برد وگفت متاسفانه بعضی اشخاص متنفذ ازآنان حمایت میکند، واحتمال دارد که بعضی افراد پولیس نیز غفلت بکند، اما جلالی گفت که این اشخاص همه شان شناسائی شده وهمراه با کمک کننده گان شان به زودی به چنگال قانون سپرده خواهد شد.

انتخابات به له مهال ویش...

خلیل زاد وویل: د شخړو د اندیښنو او د حامد کرزی د ځینو انتخاباتی سیالانو د غوښتنو سره سره چې وایي انتخابات دې وخندول شي د افغانستان انتخابات به له مهال ویش سره سم تر سره شي. په واشنګټن کې خلیل زاد په خپل خبری کنفرانس کې د ایران په حکومت کې دننه ځینی ډلې وحشت پالونکی وبللی او ویې ویل هغوی کیدای شي په تهران کې نور غښتلی شي. خلیل زاد وویل: دغه ډلی نه غواړی چې افغانستان په بو ولسواك او معتدل هیواد بدل شي. د امریکا سفیر زیاته کړه پداسې حال کې چې دی د ایران د ګاونډي هیواد افغانستان د اوږد مهاله لرلیدپه اړه هیله من دی خو د عمل خوښونکو او کار ورانونکو تر منځ د قدرت په سر په مبارزې اندیښنه کوي. او دغه راز د پاکستان په سرحدونو کې تر انتخاباتو وړاندې د ستونزو دزیاتیدو اټکل کوي.

اقتصادي بیاوړتیا...

. او زیاته یې کړه خو بډې او فساد له منځه لاړ نشي فقر نه ختمیږي. کرزی ژمنه وکړه چې د ټاکنو د ګټلو په صورت کې به د پنځو کلونو په موده کې ټولې وسلې راټولې کړي د بناغلی کرزی یو بل ټینګار داو چې له ټرې او په سر کې له متحده ایالاتو سره به پراخې او مضبوطې اړیکې جوړوي داسې اړیکې چې دده په وینا په ضمانت. ولاړې وي او له مخې یې د افغانستان ګاونډیان د بل خل لپاره پدې هیواد کې پتې او بیکاره مداخلې ته زړه نه نکړي.

قابل توجه یابنده بکس دیپلومات

یک بکس دیپلومات حاوی یکجلد پاسپورت، تکت طیاره، قباله خانه، یکتعداد زیورات وپول نقد وسایر اسناد قیمت بها از نزد احسان الله آرینزی ظهر روز پنجشنبه در ساحه فروشگاه مفقود گردیده یابنده لطفاً با تیلفون های ۰۷۰۸۰۲۰۰۳ یا ۰۷۰۸۰۱۸۰۱ در تماس شده ویا هم با ارسال اسنادمتذکره به پست بکس ۹۰۳ وزارت مخابرات علاوه بر زیورات وپول های نقد موجود در بکس شیرینی اخذ نماید.

اعلان

کمیسیون عالی سرمایه گذاری به اطلاع سرمایه گذاران وصنعت کاران میرساند که عنقریب زمین در پارک های صنعتی در ساحات کمری، ده سبز وسنجد دره آماده توزیع خواهد گردید.
آنعده سرمایه گذاران وصنعت کاران که در رشته های قالین بافی وفرش دستی، صنعت چرم گری، مواد خوراکه، تولید مواد ساختمانی وتهیه میوه جات صادراتی علاقه مند خرید ویا اجاره زمین باشند میتوانند از تاریخ ۲۸ سنبله الی ۱۱ میزان به ریاست حمایه سرمایه گذاری مقابل وزارت امور خارجه عقب مسجد سید مجنون شاه به روز های شنبه الی چهار شنبه از ساعت ۸ الی ۴ عصر غرض اخذ فورمه تشریف بیاورند.

آلمان به شرکت کنندگان در کنفرانس اسلامی ویزه ورود نخواهد داد

آلمان می گوید به هرکس که قصد شرکت درکنفرانس اسلامی برلین را داشته باشد ویزه ورود نخواهد داد. آلمان این تصمیم را پس ازآن اتخاذ کرد که مقامات مسئول اظهارداشتند به نظرمی رسد کنفرانس اسلامی که قراراست ماه آینده در برلین تشکیل شود قصد دارد ازتروریزم اعلام حمایت کند. والتر لیندنر، سخنگوی وزارت امورخارجه آلمان به خبرنگاران گفت بنیادگرایان جایي درآلمان ندارند. این کنفرانس که ازآن به عنوان " نخستین کنگره عربی واسلامی دراروپا " یاد شده است سه روز به طول می انجامد وقراراست روزاول ماه اکتوبر کارخود را دربرلین آغازکند. در سایت اینترنتی کنفرانس خواستارآزادی کلیه سرزمین های اشغالی وهمچنین کشورهائی شده است که علیه برتری طلبی آمریکا وصهیونیزم واشغالگری مبارزه می کنند. اتوشیلی ،وزیرداخله آلمان به خبرنگاران گفت دولت درنظردارد این هفته کنفرانس را تحریم کند زیرا به نظرمی رسد که کنفرانس می خواهد تروریزم را توجیه کند. اما سخنگوی کنفرانس با تکذیب این اتهامات به گزارشگرصدای آمریکا گفت سازمان دهندگان کنفرانس می خواهند ازحقوق بشر وحقوق بین الملل دفاع کنند.

ایران برنامه تولید تسلیحات اتمی ندارد

مسوول آژانس بین المللی انرژی اتمی فعالیت هسته ای ایران در یکی از سایت های مورد اتهام ایالات متحده را رد کرده و خواستار ادامه تلاش های دیپلماتیک شده است.محمد البرادعی، مسوول آژانس بین المللی انرژی اتمی، گفته است که تحقیقات انجام شده نشانه ای از فعالیت هسته ای جمهوری اسلامی در سایت پارچین را کشف نکرده است در حالیکه ایالات متحده ایران را متهم کرده بود که به اجرای برنامه های محرمانه ای در این محل مبادرت ورزیده است.آقای برادعی در مصاحبه با بی بی سی گفته است که دلیلی در دست نیست که ثابت کند این ادعا را تایید کند که ایران در سایت پارچین به عملیاتی برای تولید تسلیحات هسته ای دست زده است. وی اضافه کرده که نمی توان تایید کرد که برنامه های هسته ای ایران در حال حاضر خطراتی را در پی دارد و لازم است به تلاش های دیپلماتیک برای وادار کردن این کشور به همکاری کامل با آژانس فرصت بیشتری داد.مسوول آژانس بین المللی انرژی اتمی یادآور شد که ناکامی در کشف برنامه های تسلیحات غیرمجاز در عراق نشان داد که نباید قبل از انجام تحقیقات لازم به نتیجه گیری شتابزده مبادرت کرد.قبلاً حسین موسویان، رییس هیات نمایندگی ایران در اجلاس شورای حکام آژانس بین المللی انرژی اتمی، گفته بود که این کشور حاضر است تضمین های بیشتری در این مورد بدهد که برنامه غنی سازی یورانیم را صرفا برای مقاصد صلح آمیز دنبال می کند.اجلاس جاری شورای حکام آژانس بین المللی انرژی همچنان به مذاکرات خود بر سر صدور قطعنامه ای در مورد برنامه های هسته ای ایران ادامه می دهد.در پیش نویس قطعنامه ای که توسط سه کشور آلمان، بریتانیا و فرانسه تسلیم اجلاس شده است از ایران خواسته شده برنامه غنی سازی یورانیم خود را متوقف سازد.در این قطعنامه آمده است که به جمهوری اسلامی تا ماه نوامبر سال جاری فرصت داده می شود تا ضمن اجرای این درخواست، گزارش کامل برنامه های هسته ای خود را در اختیار آژانس قرار دهدبرخلاف خواست ایالات متحده، این پیش نویس به ارجاع دوسیه هسته ای ایران به شورای امنیت سازمان ملل متحد در صورت عدم اجرای مفاد این قطعنامه اشاره ای ندارد.

تاخیر انتخابات با مصلحت ملی ...

آنچه را که میتوان برای کاندیدان گرامی خاطرنشان کرد، اینست که دروضع موجود، هیچکس نخواهد توانست با وجود همه امکانات ، به همه ولایات برود وکمپاین انتخاباتی اش را تا دوردست ترین نقاط گسترش بدهد، وضعیت بی امنی ونامطمئن درولایات کشور بعید است که چنین مجالسی را میسرساخته بتواند، که رخدادهای هفته ء گذشته برای حقیقت صحه میگذارد.
درفرجام این نکته را درنظر باید داشت که با دشمنان گوناگون ودست به ماشه یی که داریم، هرروز، هرساعت وهردقیقه یی که بر سر این خوان هموار میگذرد وما درتناول وتمتع ازآن «لیت ولعل» میکنیم. درواقع مجال تازه یی برای دشمنان وطن ومردم خویش فراهم میکنیم.
بدینگونه بهتر است راههای دیگری را درزمینه جستجو کنیم زیرا این وریانت با مصلحت ملی هماهنگ نیست.

اراده
زیرنظرهیات تحریرانتشار میبابد
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : ظهور افغان
معاون : سهراب "دیدار"
روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: انجنیر محمدجمیل "امیری" و احمدشاه "وحدت"
چاپ:مطبعه مرکزنشراتی افغان
اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر۹۵)
تلیفون موبایل مدیر مسوول: ۰۷۰۲۲۴۷۸۷
تلیفون موبایل معاون : ۰۷۰۲۲۲۷۲۶
قیمت یک شماره ۳ افغانی
ERADA Daily
Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Chief Editor: Zuhoor Afghan
Founder: Haji Sayed Daud,
Deputy: Suhrab Didar
Mobil Phone:
Engineerjamil_amiry @ yahoo.com
eradadaily@hotmail.com